د افغانستان
روڼتیا
څار



# د پالیسۍ لنډیز

## د کوویډ- ۱۹ اړوند د افغان حکومت د مرستو د کڅوړو د ویش روڼتیا او حساب ورکونه

www.integritywatch.org

# د پالیسۍ لنډیز

## د کوویډ- ۱۹ اړوند د افغان حکومت د مرستو د کڅوړو
## د وېش روڼتیا او حساب ورکونه

د افغانستان روڼتیا څار
کابل
چنګاښ ۱۳۹۹

د چاپ حق © د افغانستان روڼتیا څار سره دی. ټول حقونه خوندي دي.
د افغانستان روڼتیا څار لخوا خپور شوی دی.
د پښتې انځور: https://dastarkhanmili.org
قلعه فتح الله، کابل افغانستان
info@integritywatch.org
www.integritywatch.org

## د افغانستان روڼتیا څار په اړه

د افغانستان روڼتیا څار اداره، یوه افغاني مدني ټولنه ده چې په افغانستان کې د روڼتیا، حساب ورکونې او امانتولۍ لپاره کار کوي. د روڼتیا څار اداره د ۲۰۰۵ کال په اکتوبر کې رامنځته او په ۲۰۰٦ کال کې د خپلواکې مدني ټولنې په توگه ثبت شوه. د رونتیا څار مرکزي دفتر په کابل او په بلخ، بامیانو، هرات، کابل، کاپیسا، کندز، ننگرهار، پکتیا او پروان کې فعال ولایتي دفترونه لري.

په تېره یوه لسیزه کې، د روڼیتا څار ادارې کار د ټولنیز څار، څېړنې او نیاوغوښتنې په برخو متمرکز وو. روڼتیا څار د خپل پېل راهیسې هڅه کړې چې د خپلو پروگرامونو له لارې ټولنه راویښه او خلک په حکومتولۍ کې رغنده رول ته وهڅوي. د ټولنیز څار په چارو کې یې د ټولنیز څار د توکو برابرول او د ودانیزو پروژو، عامه خدماتو، محکمو او استخراجي صنایعو د څار لپاره د ټولنو روزل او چمتو کول راځي.

څېړنیز کار یې د پالیسۍ اړوند څېړنې دي چې د فساد وضعیت، نظریات او تجربې وڅېړي او د امنیت، عدالت، استخراجي صنایعو، عامه مالیاتو، د بودیجې مدیریت او د مرستو د اغېزناکتیا په شمول د فساد په اړه پراخ موضوعات تر څېړنې لاندې ونیسي. موخه دا ده چې داسې تازه او پر شواهدو ولاړې بنسټیزې څېړنې وشي چې پر مټ یې تگلارې جوړې شي، پر چارواکو اغېز وکړي او د خلکو پام خپلسریو او پټو موضوعاتو ته راواړوي.

د روڼتیا څار ادارې د مالوماتو پر مټ د پرېکړهنیونې او فساد او روڼتیا اړوند موضوعاتو کې د عامه بحثونو څخه د ملاتړ په برخه کې مخکښ رول لوبولی دی. د نیاوغوښتنې په چارو کې یې امانتولي، روڼتیا او د مسؤولیت‌منښت اړوند موضوعاتو کې د پالیسۍ په کچه د خبرو اترو برابرول راځي. د افغانستان روڼتیا څار د ادارې پالیسي دا ده چې حکومت او ټولنې ته د خدماتو وړاندې‌کوونکو مسؤولیت‌منښت او ځواب‌ویل وارزوي. مالوماتو ته لاس‌رسی، د بودیجې روڼتیا او مسؤلیت پېژندنه، د مرستو اغېزناکتیا او شفافیت، د عامه خدماتو رسولو اغېزناکتیا او د فساد پر وړاندې مبارزه هغه موضوعات دي چې دې ادارې پرې تر دې دمه کار کړی دی.

# مننلیک

د افغانستان د روڼتیا څار سازمان، د دې راپور د لیکوال ښاغلي ابراهیم خان څخه مننه کوي. سربېره پر دې، موږ د یاد سازمان د اجرائیه مشر ښاغلي سید اکرام افضلي، دنیاو غوښتنې او اړیکو مسول محمد ناصر تیموری ، میرویس ناصرې د اړیکو آمر، سید ضیافت الله سعیدي د نیاو غوښتنې کارپوه، عرفان ارزاز د نیاو غوښتنې کاریوه څخه هم مننه کوو چې د دې راپور بیا کتنه یې ترسره کړي ده. په پای کې د دولتي ادارو، نړیوال بانک او د ملي دسترخوان څخه ګټه اخیستونکو هم مننه یو چې په مرکو کې یې ګډون وکړ او هغه معلومات یې وړاندې کړل چې د دې پالیسۍ لنډیز لپاره اړین وو.

## لیکلړ

د افغانستان روڼتیا څار په اړه ........ ٤
مننلیک ........ ٥
لیکلړ ........ ٦
شالید ........ ٧
میتوډولوژي ........ ٧
پیلیزه ........ ٨
١ د ښاریانو یا د کورنیو د ټاکلو لپاره د معیار نه شتون ........ ٩
٢ تطبیق کوونکو ادارو ته د بودیجې تخصیص ........ ١٠
٣ دویم ځلي کمک او ټیټ کیفیت ........ ١٠
٤ د دریمې ډلې لخوا څارنه ........ ١١
٥ د پروګرام ناقانونه پلې کېدل ؟ ........ ١١
٦ د مدني ټولنو ضعیفه ونډه ........ ١٢
٧ د ملي دسترخوان پروژې د شکایتونو میکانیزم ........ ١٢
٨ د خوراکي توکو د کڅوړو تدارک او د مرستندویه شریکانو سره تړون ........ ١٢
٩ د ټولنې زیان منونکي خلک ښکیلول ........ ١٣
١٠ راپور ورکونه/ د پروژې روڼتیا/ معلوماتو ته لاسرسی ........ ١٣
پایله ........ ١٤
سپارښتنې ........ ١٤

## شالید

د افغانستان اقتصاد د کوویډ – ۱۹ وبا له ناورین مخکې هم کمزوری و. د حکومت له لورې د خپرو شویو ارقامو له مخې، د یاد ناورین څخه وړاندې شاوخوا ۹۳٪ سلنه وګړو د فقر تر کرښې لاندې ژوند کولو[1]. د کرونا وبا د اغیزو د مخنیوي لپاره د افغانستان حکومت د مالي مبارزې د بیړنیو مرستو کڅوړه وړاندې کړه[2]. په دې کڅوړه کې د ټول هیواد په کچه د خوراکي توکو ویش شامل و. د دې لپاره چې د قرنطین دوره وغځیده افغان حکومت یو پروګرام اعلان کړ چې د ملي دسترخوان دپروژې په نوم یادیده.[3]

دا پروژه پر افغان کورنیو او ټولنې د کوویډ – ۱۹ وبا د اغېز د کمولو برنامې یوه برخه ده چې د اټکل له مخې به ۴.۱ میلیون کورنیو سره چې د ورځې ۲ ډالر یا تر دې کم ورځنی عاید ولري مرسته کړي او په هیواد کې به ۹۰ سلنه کورنۍ تر پوښښ لاندې راولي[4]. دا پروګرام د افغانستان د ولسي تړون پروژې (CCAP) لاندې د کرونا پر وړاندې د مبارزې د فعالیتونو لپاره جوړ شوې، او د موازي مرستو له لارې به هغه ټولنې د ولسي تړون له لارې نه برخمن کېدل، د ملي دسترخوان پروژې لاندې به برخمنې شي.[5]

## میتوډولوژي

د ملي دسترخوان برنامې د څېړلو لپاره د کیفي څېړنې میتوډولوژي کارول شوې ده. پوښتنلیک جوړ کړل شو او د مرکو او جلسو لپاره مختلفو اړوندو بنسټونو سره شریک کړل شو. د پروګرام څخه ګټه اخیستونکو سره هم مرکې او جلسې ترسره شوې. د دې پالیسۍ لنډیز لپاره کیفي څېړنې څخه ځکه ګټه واخیستل شوه چې موږ غوښتل چې د برنامې په ښه ډول سره وڅېړل شي او دا وکتل شي چې د برنامې د ډیزاین او د تطبیق مرحلو کې څومره توپیر دی. څرنګه چې ښکاره ده، دغه برنامه د خلکو د ګټو لپاره پېل شوی ده نو ځکه دا اړینه وه چې موږ اړونده ډلو څخه د برنامې په تړاو پوښتنې وکو او بیا د خلکو څخه د دغې برنامې د ګټو په موخه د هغوی نظرونه واخلو چې هغوی دغه برنامه څنګه ارزوي. په مجموعي ډول د ټول هیواد څخه ۱۵ ګټه اخیستونکو خلکو سره مرکې وکړل شوې. همدغه راز د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت، د سیمه ایزو آرګانونو خپلواکه اداره، نړیوال بانک او د مالیې وزارت سره هم مرکې وشوې.


[1] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Afghanistan-COVID-۱۹-Relief-Effort-for-Afghan-Communities-and-Households-۱.pdf
[2] ibid
[3] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Afghanistan-COVID-۱۹-Relief-Effort-for-Afghan-Communities-and-Households-۱.pdf
[4] https://www.worldbank.org/en/news/loans-credits/۲۰۲۰/۰۸/۰٤/afghanistan-us۲۸۰-million-grant-to-fund-the-covid-۱۹-relief-effort-for-afghan-communities-and-households-reach-project
[5] https://www.worldbank.org/en/news/loans-credits/۲۰۲۰/۰۸/۰٤/afghanistan-us۲۸۰-million-grant-to-fund-the-covid-۱۹-relief-effort-for-afghan-communities-and-households-reach-project

## پیلیزه

دا پروژه د درې دولتي ادارو؛ د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې، د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت (MRRD) او د کابل ښاروالۍ له لورې پلي کیږي او د جمهوري ریاست د لومړي مرستیال دفتر د دې پروژې رهبري په مخه وړي. د مالیې وزارت د دې پروژې د مرستندویه فعالیتونو د همغږۍ مسؤولیت لري.[٦]

د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره دا پروژه په ۱۴ لویو ښارونو کې پلي کوي او د دې لپاره ورته ۵٦ میلیونه امریکايي ډالر ځانګړي شوي دي. د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت په ۲۰ ولایتونو کې د دې پروژې د پلي کولو مسؤولیت پر غاړه لري[٧]. هغه سیمې چې له وړاندې پکې د ولسي تړون د پروګرام له لارې شوراګانې رامنځته شوې وې، د ملي دسترخوان د پروژې د تطبیق ساحې هم وپیژندل شوې او هغه ساحې چې شورا ګانې په کې نه وې رامنځته شوې د مرستو د ترسره کولو د ساحو په توګه وپیژندل شوې او په دې ځایونو کې حکومت نوې شوراګانې رامنځته کړې. د دې شورا ګانو دنده ده چې وګړو ته د خوراکي توکو مرستندویه کڅوړې وویشي. لومړی انځور ښیي چې څرنګه د بیړنیو مرستو کڅوړه په اړمنو خلکو وویشل شوې/کېږي.

لومړی انځور: د اړمنو خلکو ترمنځ د خوراکي توکو د کڅوړو ویش




سرچینه: د ملي دسترخوان (REACH) پروژې ویبپاڼه

**د ولسي تړون د پروګرام او ملي دسترخوان پروژې (REACH) ترمنځ توپیرونه:**

د ولسي تړون پروګرام یوه اوږد مهاله پروګرام دی چې لس کلونو پورې به وغځیږي. د دې پروګرام موخه په ټول هیواد کې د ټولنیزو خدمتونو او زیربناوو ښه والی دی. دا هغه بنسټیز خدمات وړاندې کوي چې د ټولنې لومړیتوبونه بلل کېږي. د ولسي تړون د پروژې لاندې تر اوسه پورې ۱۲۰۰۰ کلیوالي ټولنې رامنځته شوې دي. د ولسي تړون د پروژې ټوله بودیجه ٦۲۸ میلیونه امریکايي ډالر ده.[٨]

پر افغان کورنیو او ټولنې د کووید – ۱۹ وبا د اغېز د کمولو برنامې (REACH) د ملي دسترخوان پروژه د بیړنۍ مالي مبارزې د پروژو څخه یوه ده چې موخه یې په ټول هیواد کې د خوراکي توکو ویش دی. د کووید-۱۹ وبا پر وړاندې د ولسي تړون مرستې د کلیوالي ټولنو له لارې د پلي کولو په پرتله تر ډېره د ټولنیز مشارکت د مرستې (SIG) له لارې اړمنو کورنیو ته د خوړو او نورو اړینو توکو وړاندې کولو له لارې ترسره شوې دي[٩]. د دې نوښت لاندې د ټولنې هره پراختیایي شورا (CDC) د اړمنو کورنیو د شمیر له مخې مرستې ترلاسه کوي[١٠]. په پام کې نیول شوې ده چې په کلیو او د ښار په شاوخوا سیمو کې د خوراکي توکو کڅوړې یو ځل او په ښاري سیمو کې دوه ځلې وویشل شي.[١١]

[٦] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Operations-Manual-Covid-۱۹-Relief-Efforts-for-Afghan-Communities-and-Households-Project.pdf

[٧] د.سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې اداري سره د مرکې له لارې لاسته راغلي معلومات، ۲٦ آپریل ۲۰۲۱

[٨] http://www.ccnpp.org/Default.aspx

[٩] د. کلیو بیارغونې او پراختیا په وزارت کې د ملي دسترخوان پروژې عملیاتي ریس د ۲۰۲۱ د آپریل په ۳۰ خبرې ته وویل.

[١٠] Ibid

[١١] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Operations-Manual-Covid-۱۹-Relief-Efforts-for-Afghan-Communities-and-Households-Project.pdf

د پروژې د اسنادو سره سم نږدې ۱۰ سلنه شتمنې کورنۍ به د دې پروګرام څخه بې برخې شي چې له وړاندې څخه د بې برخې کولو د معیارونو او ستندردونو تر پوښښ لاندې تشخیص شوي وي. سربېره پر دې، هغه کورنۍ چې د میرمنو له لورې یې سرپرستي کیږي په لوړه کچه زیان منونکي دي او د خوراکي توکو د کڅوړو په ویش کې باید ورته لومړیتوب ورکړل شي.

په کلیوالي سیمو کې دا پروژه د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت او په ښارونو کې د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې ادارې له لورې پلي کیږي او په کابل کې د ملي دسترخوان پروژه د کابل ښاروالۍ له لورې تطبیق کیږي.

**اساسي موندنې**

د دې پالیسۍ لپاره د مرکو له لارې د حکومتي ادارو څخه ارقام راټول شوي دي، او همدارنګه د هغو ارقامو څخه هم ګټه اخېستل شوې ده چې د حکومتي ادارو له لورې په اړوندو ویب پاڼو خپاره شوي و. کابل ښاروالي یو د هغه حکومتي ادارو او کلیدي پلي کوونکو ادارو څخه وه چې کارکوونکي یې د مرکې لپاره حاضر نه شو. د معلوماتو د راټولونې او ګټه اخیستونکو سره د مرکو د ترسره کولو وروسته د پروژې ځینې موندنې په لاندې ډول دي:

## ۱. د ښاریانو یا د کورنیو د ټاکلو لپاره د معیار نه شتون

د درې مهمو پلي کوونکو ادارو په نظر د کورنیو د ټاکنې لپاره هیڅ معیار شتون نه لري. له بلې خوا له دې برنامې څخه د کورنیو د نه شاملولو لپاره معیارونه شتون لري[۱۲] چې په لاندې ډول دي:

- د ملګرو ملتونو او یا غیر دولتي سازمانونو کارکوونکی
- د دوه پوړیزه ودانۍ درلودل
- د شخصي موټر درلودل
- د ۵ جریبه یا زیاتې کرنیزې ځمکې درلودل

د حکومت موخه دا ده چې د خوراکي توکو دا کڅوړې به په ۹۰ سلنه وګړو وویشل شي چې د فقر د کرښې لاندې ژوند کوي. په دې پروژه کې یو شمیر مرستندویه شریکان شتون لري چې په ښاري او کلیوالي سیمو کې د ملي دسترخوان پروژې په پلي کولو کې مرسته کوي. مرستندویه شریکان هغه ساحې سروې کوي چې د خوراکي توکو ویش پکې ترسره کیږي. همدارنګه هیڅ میکانیزم شتون نه درلود چې د ګډون کوونکو لست تصدیق کړي او د پلي کوونکو ادارو څخه د غوښتنې سربېره یې له مونږ سره د شریکولو څخه ډډه وشوه. همدارنګه په درې واړو پلي کوونکو ادارو کې د کورنیو د اخراج معیارونه توپیر کوي. د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت او د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکې ادارې لپاره دا ۱۰٪ سلنه ټاکل شوي دي، په داسې حال کې چې د کابل لپاره ۲۰٪ سلنه د دې لپاره ټاکل شوي دي چې په کابل کې خلک نسبتاً د ښه اقتصادي حالت درلودونکي دي.

په بېلابېلو سیمو کې د حکومت له لورې د غربت او نفوسو په اړه په نشر شویو ارقامو کې ستونزه لیدل کیږي. د دې ډول پروګرامونو د جوړولو پر مهال څارنې ته اړتیا وي او حکومت باید په هر ولایت کې د فقر کچې ته هم پاملرنه وکړي. د فقر د شبکې له نظره د کابل نه تر بادغیس پورې د فقر کچه د ۱۲٪ څخه تر ۸۱٪ پورې ده[۱۳]. دا به حکومت ته د دې وړتیا ورکړي چې د ولایتونو د فقر کچې د تناسب پر بنسټ د فقر د کمولو دا ډول پروګرامونه په لاره واچوي.

یو شمیر قضیې شتون لري چې هغه کسان چې د خوراکي توکو د کڅوړو مستحق دي په لستونو کې یې شتون نه درلود[۱۴]، همدارنګه داسې قضیې هم شتون لري چې یوې کورنۍ دوه ځلې مرسته ترلاسه کړې وي[۱۵]. که څه هم، د شکایتونو د اوریدو لپاره میکانیزم شتون لري، ګټه اخیستونکي نه شي کولی چې هغه وړیا نمبر سره اړیکه ټینګه کړي ځکه چې دوی یې یا په اړه پوهاوی نه لري یا فکر کوي چې ګټوره پایله به ونه لري[۱٦]. همدارنګه څېړنې هم داسې شواهد ونه موندل چې د خوراکي توکو کڅوړې هغه کورنیو ته چې

---

[۱۲] https://www.ccnpp.org/Page.aspx?PageID=۱۰٤۳

[۱۳] https://mppn.org/new-afghan-multidimensional-poverty-report/

[۱٤]. د ۲۰۲۱ د اپریل په ۲۷ د جلال اباد څخه یو ګټه اخیستونکي څېړنې ته داسې وویل

[۱٥] ibid

[۱٦]. د ننګرهار، لغمان او کونړ څخه ګټه اخیستونکو داسې وویل.

ښځینه سرپرستانې لري په لومړیتوب ورکولو ویشل شوي وي چې دا د پروژې په سند کې ټاکل شویو معیارونو څخه سرغړونه ده.

د حکومتي چارواکو له نظره، د پروګرام بریا او اغیزمنتوب تر ډیره د ښاریانو په صداقت پورې اړه لري. د بیلګې په توګه، دوی د نسبي ښه حالت په درلودو سره د خوراکي توکو کڅوړو اخیستو ته نه وواييي او حکومت ته لارښوونه وکړي چې په هغه ساحو کې یې وويشي چې خلک ورته اړتیا لري.[17]

## ۲. تطبیق کوونکو ادارو ته د بودیجې تخصیص

د کلیو بیارغونې او پرمختیا وزارت ته د مخکښې پلې کوونکې حکومتي ادارې په توګه په ۱۹ ولایتونو کې چې کلیوالي او د ښارونو شاوخوا سیمې په کې شاملې دي د خوراکي توکو د کڅوړو د ویش لپاره ۱۳۶ میلیونه امریکایي ډالر ځانګړي شوي دي. د سیمه ایزو اورګانونو خپلواکې ادارې ته د ۱۹ ولاتونو په مرکزي ښارونو کې د ملي دسترخوان پروژې د تطبیق لپاره ۵٦ میلیونه امریکایي ډالر ځانګړي شوي دي، همدارنګه د کابل ښاروالۍ ته د دې پروژې د اجراء لپاره ۸۰ میلیونه امریکایي ډالر ځانګړي شوي دي. ټاکل شوې وه چې په کابل ښار کې به د دې پروژې څخه ٦۲۸.۷۴۵ کورنۍ برخمنې شي.[18]. د خوراکي توکو کڅوړې به په دوه برخو کې وویشل شي. تمه کیدله چې د دې پروژې موده د ۲۰۲۱ کال د جون په میاشت کې بشپړه شي. په هر صورت، دې زیات وخت واخیست او ښايي د ۲۰۲۱ کال په ډیسمبر میاشت کې بشپړه شي[19].

۱ جدول: د ملي دسترخوان پروژې تطبیق کوونکو ادارو ته ځانګړې شوې بودیجه

| بودیجوي واحد | د ځانګړې شوې بودیجې اندازه | د کورنیو اټکل شوی شمیر |
|---|---|---|
| د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت | ۱۳٦ میلیون امریکایي ډالر | ۳۸۱۹۴۱۱ |
| د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره | ۵٦ میلیون امریکایي ډالر | ٦۱۵۵٦۵ |
| کابل ښاروالي | ۸۰ میلیون امریکایي ډالر | ٦۲۸۷۴۵ |

د یادونې وړ ده چې اړونده حکومتي ادارو ته دا تخصیص د ملي بودیجې د سند څخه بهر ترسره شوی دی. د دې تخصیصونو څخه ځینې د ۲۰۲۰ کال په دریمه ربعه کې پیل شوي و او کړنلاره داسې وه چې د مالیې وزارت به د بودیجې ځانګړې اندازه یوې ځانګړې ادارې ته تخصیص کړي او د وزیرانو شورا تصویب ته یې ولیږي[20]. د ملي دسترخوان پروژې د بودیجې معلوماتو د ساتلو لپاره ځانګړې بودیجه او بودیجوي کود شتون نه لري. په اوس وخت کې حکومت ۴۳۴،۳۲۸ کلیوالي او ۱۰۵،۴۸۰ ښاري کورنیو ترمنځ د خوراکي توکو د ویش لپاره کڅوړې ځانګړې کړې دي.

## ۳. دویم ځلي کمک او ټیټ کیفیت

د حکومتي ادارو سره د ترسره شویو مرکو پربنسټ د خوراکي توکو کڅوړې د ۴۰۰۰ افغانیو په ارزښت دي چې د ښاریانو ترمنځ به یوځل وویشل شي[21]. په هر صورت، یو شمیر پیښې شتون لري چې دواړه د خوراکي توکو کڅوړې او ۴۰۰۰ افغانۍ (۵۲ امریکایي

[17]. د ۲۰۲۱ د می په ۱ په سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره کې ارتباطي شخص څیړنې ته په یوه مرکه کې وویل.

[18] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Operations-Manual-Covid-۱۹-Relief-Efforts-for-Afghan-Communities-and-Households-Project.pdf

[19].. د ملي دسترخوان پروژې عملیاتي ریس د ۲۰۲۱ د می په ۲ په یوه مرکه کې څیړنې ته داسې وویل.

[20] . د بودیجې د پلان او اصلاح مدیر د ۲۰۲۱ د می په ۳ په یوه مرکه کې څیړنې ته داسې وویل.

[21] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Afghanistan-COVID-۱۹-Relief-Effort-for-Afghan-Communities-and-Households-۱.pdf

ډالر) نغدي ویشل شوي وي. په ډېرى قضیو کې د شوراګانو مشران د خپلو خپلوانو نومونه لیکي[۲۲] په داسې حال کې چې یو شمیر قضیې شتون لري چې سربیره پر دې چې دوى خپل کورونه او موټرې درلودې د خوراکي توکو کڅوړې یې ترلاسه کړي دي. د دې ډول مواردو څخه په لغمان، کونړ، ننګرهار او کاپیسا ولایتونو کې خبر ورکړل شوی دی.

د یو ځل څخه زیات د پیسو ترلاسه کولو موضوع هم په پروسه کې په پراخه توګه خپره شوې وه. د څیړنې د موندنو پر بنسټ لیدل کیږي چې دا تر ډېره د افغانستان د ختیځې برخې قضیه ده. یو شمیر کورنیو چې په مختلفو سیمو کې یې ځانونه ثبت کړي و، په مختلفو سیمو کې مرستې ترلاسه کړي دي.

د څیړنې په ترځ کې د یو شمیر ګټه اخیستونکو سره اړیکه نیول شوې او د ملي دسترخوان پروژې له لارې د ویشل شویو توکو د کیفیت په اړه یې ترې پوښتلي دي، او دوی په بامیان او هرات کې د توکو د ټیټ کیفیت څخه خبر ورکړی دی[۲۳]. په یو شمیر قضیو کې ځینې کورنیو ان دا کڅوړې د ځان پر ځای د خپلو حیواناتو د خوړلو لپاره کارولي دي. په داسې حال کې چې د حکومت او خصوصي سکتور سره د خوراکي تولیداتو او د هغوی د کیفیت په اړه د اعلاناتو د مخنیوي هوکړه لاسلیک کړې؛ دا ډول قضیې خواشینونکي دي.

## ٤. د دریمې ډلې لخوا څارنه

د ملي دسترخوان پروژې تر چتر لاندې د څارنې دوه ډوله میکانیزمونه شتون لري: د ساحې څارنه او تلیفوني څارنه (د لیرې څخه څارنه)[۲٤]. د ساحې په څارنه کې په ټولنه کې د ګډون څارنې له لارې د حکومتي چارواکو او د ټولنې د غړو څارنه شامله ده[۲٥]. د لیرې څخه څارنه به د اړیکې د مرکز د استازو (د مرکزي اداري څخه ۳٦ تنه) له لارې چې د ویش د پروسې په جریان کې د کورنیو او د ټولنې د غړو سره لږ تر لږه د ورځې ۳۰ اړیکې نیسي[۲٦]. د دې اړیکو جزییات د خلکو لپاره خپاره شوي نه دي.

په داسې حال کې چې د ATR مشورتي خدمتونو شرکت له لارې د نړیوال بانک څارنه شتون لري، د ټولنې په کچه هم د څارنې یو شمیر میکانیزمونه شتون لري. همدارنګه د ټولنې د ګډون څارنې (CPM) ټیمونه هم شتون لري چې د ویش د پروسې څخه څارنه کوي. د (CPM) غړي باید د فرعي کمیټو غړي وي او د ټولنې د پراختیایي شورا غړیتوب ونه لري[۲۷]. سره له دې، د مدني ټولنې سازمانونو ته د پروګرام د تطبیق څخه د نظارت لپاره کوم میکانیزم شتون نه لري. د ATR د مشورتي خدمتونو شرکت د ملي دسترخوان د پروژې په اړه تر اوسه د خپل نظارت موندنې په ډاګه کړې نه دي او اسناد په مستقیم ډول د نړیوال بانک سره شریکوي.

## ٥. د پروګرام ناقانونه پلې کېدل ؟

پارلمان د بودیجې په ټولو څلورو مرحلو کې مهم رول لري. حکومت د تصویب په موخه د خپلې بودیجې تعدیلات او د حکومت د بېړنیو مرستو مالي مبارزې کڅوړه پارلمان ته وړاندې کړه. پارلمان د ۲۰۲م کال په اګست میاشت کې یاده کڅوړه تصویب کړه. د ۲۰۲۰ کال په وروستیو کې د ملي دسترخوان پروژې لپاره ۸ میلیونه افغانی ځانګړې شوې. دا پروژه د بودیجې په لومړۍ مسوده کې شامله وه چې پارلمان ته وړاندې شوې وه.

پارلمان په ملي بودیجه کې د ملي دسترخوان پروژې د شمولیت سره مخالفت وکړ او ادعا یې وکړه چې د ګټورو پروژو څخه سرچینې د ملي دسترخوان پروژې ته لیږدول شوي دي. دوی همدا شان زیاته کړه چې دغه پروژه د فساد پر وړاندې زیان منونکې ده او یوه کامیابه پروژه نه شي کېدلی. که څه هم د دې پروژې موخه کورنیو ته د بیړنۍ مرستې وړاندې کول و، دې په دې ستونزمن وخت کې د پاتې میاشتو لپاره د کورنیو د لګښت او هغوی سره د کمکونو په اړه دغه برنامه هیڅ وضاحت نه لري. د مالي او بودیجوي کمیسیون

---

[۲۲]. د ۲۰۲۱ د اپریل په ۳۰ د یو سیمه ایز ګټه اخیستونکي سره مرکه

[۲۳] . د ۲۰۲۱ د اپریل په ۲۹په ننګرهار او بامیان کې د سیمه ایزو ګټه اخیستونکو سره مرکه.

[۲٤] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Dastarkhwan-e-Meli-Monitoring-Guide-Final_Oct-۲۰۲۰.zip

[۲٥] ibid

[۲٦] ibid

[۲۷] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Dastarkhwan-e-Meli-Monitoring-Guide-Final_Oct-۲۰۲۰.zip

د غړو له نظره د ۱۴ پرمختیايي پروژو څخه مالي سرچينې کمې شوي وې ترڅو د ملي دسترخوان پروژې لګښتونه پوره کړي[۲۸]. سربيره پر دې، د ٥٦ میلیونه افغانیو په ارزښت مالي منابع کمې شوي وې او پارلمان ته د هغوی د لګښت پلان نامعلومه دی چې څرنګه دا مالي سرچينې اجرا کيږي.

د پارلمان د غړو په وینا، دا پروژه په غیرقانوني توګه پلي کیږي. پارلمان د پروژې د ډیزاین کولو پروسې کې ښکیل نه و، او په کوم ډول چې حکومت د بودیجې په پروسه کې د پارلمان رول په نظر کې نه نیسي، یو ناسم کار دی. سربيره پردې، ولسي جرګه د پروسې د پلي کیدو څخه هم څارنه نه کوي ځکه چې پروژه د دوی د لاربښوونو سره سمه پلې شوې نه ده[۲۹].

## ٦. د مدني ټولنو ضعيفه ونډه

دغه پروژه د تمویلونکو په همکارۍ د دولتي ادارو له لوري ډیزاین شوې وه؛ نه د مدني ټولنې سازمانونه او نه هم پارلمان د پروژې او ډیزاین او جوړښت په مرحله کې ښکیل وو. دا په داسې لويو پروګرامونو په شفافيت او د خلکو په ګډون بانديې پوښتنې راپورته کوي. اړینه ده چې خلک پوه شي چې د دوی په پیسو باندې څه ترسره کیږي یا دولت د هغه پیسو د لګښت لپاره څه پلان لري کوم چې د مالیاتو په بڼه د خلکو څخه راټولیږي.

## ۷. د ملي دسترخوان پروژې د شکایتونو میکانیزم

یو شمیر سرې کرښې چې د نړیوال بانک لخوا په خپاره شوي منظم راپور کې پيژندل شوي دي په ګوته کوي چې د ګټه اخیستونکو د شمولیت په اړه ۲۳ داسې خبرونه شتون لري چیرې چې کمکونه مستحق خلکو ته نه دي سپارل شوي[۳۰]. همدغه راز په دې کې د کورنیو ناقانونه شمولیت ۲ راپورونه هم شامل وو. د ملي دسترخوان پروژې په ویبپاڼه کې د خپور شوي وروستي راپور له مخې، په ټولیزه توګه ۱۲۲۹ شکایتونه ترلاسه شوي چې له دې څخه ۱۱۲۰ ته رسیدنه شوې او ۱۰۹ يې تر کار لاندې دي. دا د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې اداري د یوه چارواکې د څرګندونو سره په ټکر کې دي چې دې څيړنې ته یې ویلي چې دوی هره ورځ ۱۲۰ شکایتونه ترلاسه کوي.

د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکې اداري هغه پوسټرې او بروشورونه ویشلي او نصب کړي چې د ټولنو ترمنځ د شکایتونو د میکانیزم د حل خبرتیا څرګندوي. شکایتونه د بریښنالیک له لارې په shekayat.ccnpp@gmail.com، complaints@KMDP@outlook.com او REACH-MRRDgrievance@ccnpp.org بریښنالیکونو باندې شریکیدلی شي. د تلیفون وړیا شمیره چې ښاریان کولی شي له لارې يې خپل شکایتونه ثبت کړي، ۳۳۳۰ ده. د وړیا شمیرو له لارې د شکایتونو ترلاسه کولو مرکزي سیستم شتون لري چې مرکز یې د سیمه ایزو ارګانونو دننه موقعیت لري. شکایتونو ته د رسیدنې مجموعي موده په مختلفو کچو کې توپیر لري. په عمومي توګه، یو شکایت ته د رسیدنې موده د ۳ نه تر ۳۰ ورځو پورې ده. په داسې حال کې چې د شکایتونو دثبتولو په اړه معلومات د ملي دسترخوان پروژې په ویب پاڼه کې شتون لري، د شکایاتو تشریحات یا د دوی د جدي والي کچه د حکومت له لورې نه خپریږي.

## ۸. د خوراکي توکو د کڅوړو تدارک او د مرستندویه شریکانو سره تړون

د پروژې اسنادو پر بنسټ چې د ملي دسترخوان پروژې په ویب پاڼه کې خپاره شوي دي، د خوراکي توکو کڅوړې باید د تدارکاتو د ځانګړې لارښود او فورمونو سره سم ترسره شي. د کلي پراختیایي شورا به د موجوده رسنیو د بیلګې په توګه، د جومات، راډیو او ښوونځي او نورولارو په مرستې د نرخ اخیستنې غوښتنه اعلان کړي.[۳۱] په هرصورت، د نرخ اخیستنې غوښتنلیک باید د اړونده پرچون پلورونکو او سوداګرو سره شریک شي او د درې کسیز هیئت څخه جوړه کمیټه په ټولو نرخونو باندې بیا کتنه وکړي[۳۲]. خو په عمل کې داسې نه ده. د خوراکي توکو د کڅوړو د تدارکاتو په اړه

[۲۸] . د پارلمان مالي او بودیجوي کمیسیون غړي د ۲۰۲۱ د می په ۲ څیړنې ته داسې وویل.

[۲۹] . د پارلمان مالي او بودیجوي کمیسیون غړي د ۲۰۲۱ د می په ۲ څیړنې ته داسې وویل.

[۳۰] ibid

[۳۱] https://dastarkhanmili.org/wp-content/uploads/۲۰۲۱/۰۲/Community-Procurement-Manual-August-۲٦-۲۰۲۰.zip

هیڅ اعلان یا خبرتیا شتون نه لري. د جلال آباد، لغمان او کاپیسا څخه یو شمیر بیلګې شتون لري.

د کلیو د بیا رغونې او پراختیا وزارت د کلیوالي شوراګانو د تسهیل کوونکو بنسټونو څخه به رضایت سره قرارداد کوي ترڅو دوی د ملي دسترخوان پروګرام کې هم وکړي. دا د واحدې منبعې له لارې ترسره کیږي. دسیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره هم د ولسي تړون تسهیل کوونکو بنسټونو سره په هرات، جلال آباد او کندهار ښارونو کې قراردادونه امضا کوي. د پاتې ۱۱ ولایتي مرکزونو لپاره به سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره د ولسي تړون پروګرام / ملي دسترخوان کلیوالي تسهیل کوونکو بنسټونو سره قرارداد وکړي. د سیمه ایزو ارګانونو خپلواکه اداره به دغه تسهیل کوونکي د واحدې سرچینې له لارې تدارک کړي. د کابل ښاروالي به هغه غیر دولتي سازمانونو یا مؤسسو سره چې د کابل ښار کمکونو او پرمختیایي پروګرامونو تجربه لري، سره د تسهیل کوونکو په حیث ,قرارداد کوي.

## ۹. د ټولنې زیان منونکي خلک ښکیلول

د خلکو د ګډون اصولو سره سم د ملي دسترخوان پروګرام اساسي موخه داخلي بې ځایه شویو خلکو (IDPs)، راستنیدونکو، کوچیانو او اقتصادي مهاجرینو ته کمک ورکول دي. په داسې حال کې چې د ټولنې پرمختیایي شوراګانو ته روزنه ورکول کیږي، دوی ته لارښوونه کیږي چې په ځانګړي ډول هغه کسان چې مرستې ته زیاته اړتیا لري، داخلي بې ځایه شوي او د کورنیو مشران وپیژني. دغه د پانې په مخ سم ښکاریږي، خو په عمل کې دې څیړنې هیڅ داسې شواهد ونه موندل چېرته چې د کلیو پرمختیایي شوراګانو د کورنیو د سرپرستانو، داخلي بیځایه شویو او اقتصادي مهاجرینو د پیژندلو هڅه کړې وي. دا د پروژې کیفیت او هغه سپیڅلی هدف چې دا یې ترلاسه کول غواړي ضعیفوي.

## ۱۰. راپور ورکونه/ د پروژې روڼتیا/ معلوماتو ته لاسرسی

د ملي دسترخوان پروژې د تطبیق اړوند معلوماتو خپرولو لپاره یوه ویب پاڼه شتون لري[۳۳]. حکومت د ګټه اخیستونکو شمیر، او د کلیو پرمختیایي شوراګانو په اړه چې د خوراکي توکو کڅوړې یې ترلاسه کړې دي په اړه مالومات تازه معلومات وړاندې کوي. شکایتونو ته د رسیدنې د میکانیزم له مخې، ٦۳٪ سلنه شکایتونو ته رسیدګي شوې ده.[۳٤]

سره له دې، مالوماتو ته د لاسرسي اړوند ځینې اندیښنې شتون لري. د بیلګې په توګه، د شکایتونو حالت یا کچه معلومه نه ده او په عامه اولس لپاره نه خپریږي. دا شکایتونه خپریدل کولی شي ترڅو خلکو سره مرسته وکي چې هغوی وګوري چې د پروژې پلې کولو مرحله کې څه تیریږي.

[۳۳] It can be accessed here: https://dastarkhanmili.org/?cat=۱۰۵ .

[۳٤] ibid

## پایله

په داسې حال کې چې ملي دسترخوان پروژه د خوراکي توکو د ویشلو سره سره وګړو ته د هوساینې په وړاندې کولو ټینګار کوي، دا یو شمیر ستونزې لري چې د دې د سم تطبیق کیدلو مخه نیسي. دا پروژه په ټولیز ډول طرحه شوی نه وه، نه دا میکانیزم لري او نه د مدني ټولنې سازمانونو د پروژې پلي کیدو په څارنه کې برخه لري. داسې راپورونه شتون لري چې غریب خلک د خوراکي توکو د کڅوړو څخه بې برخې پاتې کیږي. څرنګه چې ښکاره ده، دغه پروژه فقط د یو میاشت لپاره خوراکي توکي خلکو ته ورکول کیږي ډېره اغېزمنه نه ده.. دا پروژه د پارلمان له تصویب پرته پلي کیږي. دا به د ملي بودیجې د تصویب په مرحله کې د پارلمان او مالیې وزارت ترمنځ اړیکې لا ترینګلې کړي. په پروژه کې د اداري فساد خطر د مدني ټولنې او پارلمان د غړو له لورې د پروژې په پیل کې څرګنده شوی و.

## سپارښتنې

- دولت باید د مدني ټولنې ملي دسترخوان ته ورته پروژو د طرحه کولو په پړاو کې ښکېل کړي.
- د لویو پروژو د پلي کولو په څارنه کې دربیمې ډلې لخوا د څارنې میکانیزم کې باید مدني ټولنې هم ښکیل کړي.
- د دا ډول لویو پروژو پلي کیدو لپاره باید د پارلمان تصویب په پام کې ونیول شي.
- کله چې د ګټه اخیستونکو لیسټ مکمل شي، هغې نه وروسته باید هغه ضرورت مند خلک چې د خوراکي توکو څخه برخمن شوي نه وو، باید د خوراکي توکو کڅوړې ورته یو ځل بیا وړاندې شي.
- د هغه توکو کیفیت چې د خوراکي توکو کڅوړو کې شامل وي باید ښه او د کارولو وړ وي.
- په ځینو سیمو کې د خوراکي توکو کڅوړو د دوه ځلي ویش په اړه د خلکو شکایتونه باید جدي وڅارل شي.
- ویشل کیدونکې توکې د یوې کورنۍ د یوې میاشتې د لګښت لپاره کافي دی. پروژه باید په بېلا بېلو سیمو کې د بېوزلۍ د سلنو پر بنسټ طرحه شي.

د افغانستان
روڼتیا
څار

قلعه فتح الله
کابل، افغانستان

+۹۳ (۰) ۷۸۰ ۹۴۲ ۹۴۲
info@integritywatch.org
www.integritywatch.org
IntegrityWatchA@

fb.me/iwaweb.org
IntegrityWatchAfghanistan/
IntegrityWatchAfghanistan/
IWACorruption/